د هغه نوم به

د تعجب وړ وی

د هغه نوم به

د تعجب وړ وی

د هغه نوم به

د تعجب وړ وي

ویلیام میکلوی میلر

طابع: _____ ایم ویکلی

اول چاپ: _____ ۱۹۸۲

دویم چاپ: _____ ۲۰۰۳

سریزه

د دې رسالی لیکلو سره چې ټوله د انجیل د مقدس کتاب پر بناء ولاړه ده، د لیکونکی له خوا څو آیتونه ټکی په ټکی رانقل شوي دي. د دې لپاره چې لوستونکی و کولای شي دغه آیتونه په مقدس کتاب کې پیدا کړي، نو د هر اقتباس شوی آیت په آخر کې د قوس په منځ کې ماخذونه لیکل شوی دی، لومړنې ذکر شوی ماخذ (اشعیا ۹: ۲-۷) داسې لیکل شوی دی چې په څلورمه صفحه کې لیدل کیږي، د دې ماخذ معنی دا ده چې دغه اقتباس شوی کرښی د مقدس کتاب د اشعیاء په ۹ فصل کې په شپږم او اوم آیت کې لیدل کیږي. په کوم ځای کې چې لیکونکی بغیر له آیته څخه د مقدس کتاب نه یواځی بیاني ذکر کړی! نو د بیانی په پای کې اعداد لیکل شوی دي، د مثال په توګه په څلورمه صفحه کې د پورته خوا څخه په شپږمه کرښه کې د قانون لغت څخه وروسته د یو (۱) عدد لیکل شوی دی.

د دې معنی دا ده چې د دې رسالی په آخر کي په (۱۸) صفحه کې تاسې د مقدس کتاب د هغې برخی نوم، فصل او د آیتونو نمبرونه پیدا کولای شی چیرته چې د موضوع په هکله یو څه ویل شوی دي. که چیرته لوستونکی د مقدس

کتاب یوه کاپی پیدا کړی او دغه ماءخذونه په هغه کې په پوره ډول وګوری، نو د دې رسالې د مطالبو په هکله به بشپړ معلومات حاصل کړي، د مقدس کتاب ټول هغه ماءخذونه کوم چې په دې رساله کې رانقل شوی دي د یوې نوې ترجمه شوی مقدس کتاب څخه اخیستل شوی دي.

د هغه نوم به د تعجب وړ وی

آیا تاسو کله اوریدلی چې د چا نوم حیرانونکی یا د (د تعجب وړ) وی؟ مونږ هره ورځ داسې کسان ګورو چې معنی لرونکی او ښکلی نومونه لري، او هم داسې نومونه اورو چې ناآشنا او نامناسب وي. مګر ما هیڅکله په خپل ژوند کی داسې یو کس نه دی لیدلی چې د هغه نوم حیرانونکی یا د تعجب وړ وي، او هیڅ وخت مې په کوم تاریخی یا افسانوی کتاب کې هم لیدلی او لوستلی نه دی چې څوک په دغه نوم یاد شوی وی، بغیر له یو نوم څخه چې په یو ډیر پخوانی کتاب کې د اشعیاء نبی په واسطه چې دوه زره او اوه سوه ۲۷۰۰ کاله مخکی ئې ژوند کاوه لیکل شوی دی، په دې کتاب کې د یو لوی باچا د راتګ چې نوم به ئې د تعجب وړ وي پیشګوئې شوی وه، اشعیاء نبی داسې لیکلی "زمونږ لپاره یو ماشوم پیدا شوی دی، او مونږ ته یو زوی راکړل شوی دی، او د حکومت اختیار به د هغه په لاس وی او د هغه نوم په د تعجب وړ وی، او د هغه د حکومت لویوالی، سلامتی او صلح به تر ابده پورې دوام ولری" (اشعیاء نبی ۹: ۶-۷). دا شخص څوک دی چې د تل د پاره

به د داؤد په تخت باندې کښینی؟ او دا به څوک وی چې د تعجب وړ په نامې به یاد شی؟ هغه بغیر له حضرت عیسی مسیح نه بل څوک نه دی، چې ۷۵۰ کاله وروسته د اشعیاء نبی څخه د خپل مور نه پیدا شوی او د داؤد پاچا د اولاد څخه وو. هغه ډیر ځله د داؤد د زوی په نامه بلل شوی او د ځمکی پر مخ تر هر بل چا ډیر زیات د تعجب وړ سړی وو. اوس اجازه راکړی چې د دې لوی شخصیت په ژوند او کارونو کې ځنې د تعجب وړ شیانو ته نظر واچوو، تر څو مونږ ته ښکاره شی چې دا یواځینې سړی دی چې د تعجب وړ نوم ورته ورکړ شویدی.

اول: د حضرت عیسی مسیح زیږیدنه د تعجب وړ وه

ټول انسانان چې د آدم د زمانی څخه تر نن ورځې پورې پیدا شوی دي میندی او پلرونه ئې لرل مګر حضرت عیسی انسانی پلار نه لرلو، هغه ډیر ځل د مریم د زوی په نوم بلل شوی دی، دا ځکه چې هغه د پیغلی مریم څخه چې یوه پاکه او سپیڅلې باکره انجلی وه زیږیدلی دی. د حضرت عیسی دا د تعجب وړ زیږیدنه د اشعیاء نبی د یوې بلې پیشګوئې سره چې په انجیل متی کې ئې ذکر شوی دی مطابقت لري. "ګوری، یوه پیغله به امیدواره شی او زوی به ئې وشی او د هغه نوم به عمانوایل کیږدی" (متی ۱ : ۲۳).

همدارنګه د همدغې پیشګوئې په مطابق د جبرائیل په واسطه مریم ته د عیسی د زیږیدو داسې پیغام راورسید فرښتی جواب ورکړو "رُوح القدس به په تا نازل شی او د الاعلی قدرت به په تا سوری وکړی او په دې وجه به هغه پاک پیدا کیدونکی ماشوم به د خدای زوی بللی شی" (لوقا ۱ : ۳۵). آیا بل داسې څوک شته چې په داسې حیرانونکی توګه دنیا ته راغلی وي؟

دوهم: د حضرت عیسی د راتګ پیشګویانی د تعجب وړ وی

ډیر پیغمبران لکه داؤد، اشعیاء، میکاء، دانیل او داسې نورو کومو چې د حضرت عیسی د راتګ په باره کې پیشګوئې کړی وی هغوی ویلی وو چې حضرت عیسی به په بیت الحم کې پیدا شی، او هغه به خپلې معجزی، خپل تکلیفونه، د ګناه ګارانو په خاطر د ځان قربانول او بیا ژوندی کیدل او خپل نه تمامیدونکی پاچاهی او داسې نور کارونه به سر ته ورسوی د بل هیچا په باره کې چې تر اوسه پیدا شوی دومره ډیر او د تعجب وړ پیشګویانی په مقدس کتاب کې لیکل شوی نه دي.

دریم: د حضرت عیسی بې ګناهی د تعجب وړ وه

د ځمکی پر مخ ډیر ښه کسان تیر شوی دي. که چیرې مونږ د هغوی ژوند په ځیر سره مطالعه کړو وبه ګورو چې هر څومره چې هغوی پاک او مقدس وو، په هماغه اندازه خپلو ګناهونو ته هم متوجه شوی وو، او د همدې سببه د خپلو ګناهونو د بخښلو لپاره ئې خدای ته ډیر په کلکه دعا ګانی او زاری کړی دي، مګر حضرت عیسی هیڅکله ګناه نه وه کړی او د خدای په لار سم وو، هغه یو واری خپلو دښمنانو ته وویل "په تاسو کې کوم یو سړی دی چې په ما ګناه ثابتولی شی؟ که چیرې څه چې زه وایم هغه رښتیا وی نو بیا تاسو په ما ایمان ولی نه راوړی؟ (یوحنا ۸: ۴۶)

نه یواځې حضرت عیسی په خپل بې ګناهی باندې یقین لرلو، بلکه د هغه شاګردانو هم چې د هغه سره درې کاله یو ځای اوسیدل او هغه ئې ښه پیژندلو په دې پوه شوی وو چې د دوی استاد بې ګناه وو.

د مثال په توګه پطرس لیکی "نه هغه څه ګناه وکړه، او نه د هغه خولې نه د څه فریب خبره ووتله، نه هغه د کنځلو په

بدل کې کنځل کول او نه ئې په مصیبتونو زغملو چا ته دپکه ور کوله بلکه خپل ځان ئې رښتونی انصاف کوونکی ته وسپارلو." (اول پطروس ۲ : ۲۲-۲۳) او د انجیل د مقدس کتاب په یو بل ځای کې داسې لیکل شوی دی چې "ځکه چه دغه شان مشر کاهن زمونږ هم په کار دی چه هغه پاک او بې ریا او بې داغه وی، او له ګناه ګارانو نه جدا کړی او له آسمانونو نه اوچت کړی شوی وی." (عبرانیان ۷: ۲۶) آیا دا د تعجب وړ نه دی چې په دې خوا به نړې کې داسې یو پاک سړی پیدا شي چې توبه ونه کړی او هم د خدای څخه خپل د ګناهونو بخښنه ونه غواړي؟

څلورم: د حضرت عیسی مینه د ګناه ګارانو سره د تعجب وړ وه

هر ښه سړی د بد څخه نفرت لري، او هر پاک سړی د ناپاکه شیانو څخه کرکه کوي. څرنګه چې حضرت عیسی مسیح پخپله بې ګناه وو، دا معلومه ده چې د ګناه څخه ئې نفرت درلود، نو له دې سببه هغه ته مناسب وو چې خپل ځان ئې د ګناه ګارانو څخه ډیر لری ساتلی وای، مګر په حقیقت کې داسې نه وو، یعنی د دې پر ځای چې ځان د ګناه ګارانو څخه لری وساتو، هغوی سره به نور هم نژدې کیدو، هغوی سره به ئې خوراک او خبرې کولی، او هغوی ته ئې ویل چې خدای تاسو سره مینه لري، کله چې به هغوی د خپلو ګناهونو څخه توبه وکړه، هغوی به ئې په خپل غیږ کې نیول. کله چې مذهبی مشرانو د دې کارونو په کولو سره په هغه باندې انتقاد وکړ، عیسی دا خبره واوریده او دوی ته ئې وویل چې "روغ ته د طبیب حاجت نشته خو رنځور ته ئې شته. زه دې ته نه یم راغلی چې صادقان وبلم بلکه ګناه ګاران." (مرقوس ۲: ۱۷)

د هغه دښمنانو به هغه ته "د ګناه ګارانو ملګری" ویل آیا دا د تعجب وړ نه دی هغه څوک چې د ګناه ګارانو سره ئې ډیره مینه کوله د بل هر چا څخه ډیر پاک انسان وو.

پنځم: د حضرت عیسی د ګناهونو د بخښنی قدرت د تعجب وړ وه

ټول هغه لوی پیغمبران چې د خدای لخوا دنیا ته رالیږل شوی دي هیڅ یو پیغمبر هم د انسانانو د ګناهونو د بخښلو قدرت نه لرلو. مګر کله چې یو ګناه ګار شل سړی حضرت عیسی ته د شفا حاصلولو لپاره راوړل شو، نو حضرت مسیح لومړی د هغه ګناهونه وبخښل او وروسته ئې ورته شفا ورکړه، نو یو ځلې مذهبی مشرانو کوم چې هلته ولاړ وو په حضرت عیسی باندې ئې د کفر ویلو تور ولګاوه او وئې ویل چې یواځی خدای کولای شي چې د خلکو ګناهونه وبخښی. حضرت عیسی داسې جواب ورکړ چې خپله هغه د ځمکی پر مخ دا قدرت لری چې د خلکو ګناهونه وبخښی او هم هغه یو ځلې خپل قدرت د یو ناروغ سړی په شفا ورکولو سره سر ته ورساوه، او همدارنګه هغه یوه ګناه ګاره ښځه بخښلی وه چې هغې پخپله د خپلو ګناهونو د بخښلو غوښتنه کړی وه. هغه څه د تعجب وړ قدرت لرلو چې د ځمکی پر مخ ئې د خدای کارونه سرته رسول.

شپږم: حضرت عیسی معجزی د تعجب وړ وی

که څه هم موسی او الیاس او بعضی نورو پیغمبرانو هم د معجزی د ښودلو قدرت لرلو، مګر یو پیغمبر هم د حضرت عیسی په شان دومره ډیرې او لوئی معجزی نه دي ښکاره کړي. هغه به ناروغانو ته شفاء ورکوله، جزامیان به ئې پاکول، ړانده ئې بینا کول. ناوړه ارواح به ئې لری کولې، د سمندر طوفان ئې خاموشه کړو او حتی مړی به ئې ژوندی کول نه یواځې هغه پخپله دا د تعجب وړ معجزی سر ته رسولی، بلکه خپلو مریدانو ته ئې هم د ناروغ د روغولو او د مړی د ژوندی کولو قدرت ورکړی وو، کله چې د هغه شاګردانو په خپلو سترګو ولیدل چې حضرت مسیح د سمندر طوفان آرام کړو، نو هک پک او حیران شول. دا یو تعجب نه دی چې هغوی هک پک شول، ځکه چې هغه په رښتیا د تعجب وړ شخص وو.

اووم: د حضرت عیسی مسیح تعلیم د تعجب وړ وو

په کومه ورځ چې حضرت عیسی خلکو ته وینا او خبرې کولی، نو خلک به حیران پاتی شول، او ویل به ئې چې "هغه دومره عقل او دانائې له کوم ځای څخه زده کړی؟" اوس غوږ کیږدی د هغه څو عاقلانه وینا ووته: "بختور دي هغوی چې زړونه ئې پاک دي، هغوی به د خدای دیدن وکړی." (متی ۵: ۷). "خو زه تاسو ته دا وایم چې که یو سړی یوې ښځې ته په بده سترګه وګوری نو هغه په خپل زړه کې د هغې سره زنا وکړه." (متی ۵: ۲۸). "خو زه تاسو ته دا وایم چې د هغه سړی بر خلاف مه ودریږی څوک چې درسره بد کوی. که څوک درله په ښی مخ څپیړه درکړی نو ګس مخ ورورواندې کړه." (متی ۵: ۳۹). " خو زه درته دا وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوی، او څوک چې په تاسو ظلم کوی د هغوی د پاره دعا غواړئ" (متی ۵: ۴۴).
"ځکه د نورو سره تل داسې سلوک کوی لکه څنګه سلوک چې تاسو د ځان د پاره غواړی، د شریعت او د نبیانو تعلیم دا دی" (متی ۷: ۱۲). "خو په تاسو کې دې داسې نه وی. په

تاسو کې چې څوک لوی کیدل غواړی هغه دې ستاسو خادم شی، او هر هغه څوک چې په تاسو کې د ټولو نه وړومبې کیدل غواړی هغه دې په خپله خوښه د ټولو غلام شی" (متی ۲۰: ۲۶- ۲۷).

"ما تاسو ته ښکاره کړه چې په مشقت سره د کمزورو مدد په دې شان وکړی او د مالک عیسی خبرې درته یاد ساتل په کار دي چې په خپله ئې ویلی دي چې د اخستلو نه ورکړه غوره ده" (اعمال د رسولانو ۲۰: **۳۵**).

"زه تاسو ته نوی حکم درکوم: د یو بل سره مینه کوی، لکه چې ما تاسو سره کړی ده دغه شان تاسو هم د یو بل سره مینه کوی" (یوحنا ۱۳: ۳۴).

کله چې مونږ د ده د تعجب وړ خبرې آورو، مونږ هم حیرانیږو او هغه څه وایو چې ډیره پخوا ځنو هغو خلکو چې د عیسی خبری ئې واوریدی او ویل به ئې هیچا د دې په شان خبرې نه وی کړی"

اتم: د حضرت مسیح عاجزی او تواضع د تعجب وړ وه

هر ډاکټر چې د ناروغ علاج وکړي حق لری چې د ناروغانو څخه فیس یا اجوره واخلی او یو شمیر زیات ډاکټران ډیر شتمن شوی دي، همدارنګه حضرت مسیح چې ناروغانو ته شفا ور کوله او ځنې ناروغانو ډیرې روپی هم درلودی، باید چې د سرو زرو تحفی، کور او یا ځمکی ئې اخیستی وای، او بې شکه چې ډیرو خلکو ډیر شوق سره غوښتل چې یوه ډیره مناسبه طریقه خپل د زړه له کومې خوښی خپل ژغورونکی ته ښکاره کړي، مګر څرنګه چې مونږ او تاسې پوهیږو کله چې عیسی مسیح ناروغانو ته شفا ورکوله، هیڅکله بخشش او یا اجوره ئې نه ده قبول کړی. هغه نه یواځی بخشش نه اخیسته، بلکه د سرو زرو تاج ئې هم وانۀ خیست. کله چې هغه د (۵۰۰۰) پنځو زرو نه زیات کسان په پنځو ډوډیو او دوو ماهیانو باندې ماړه کړل، نو خلکو وغوښتل چې هغه ونیسي او خپل پاچا ئې وټاکي، مګر حضرت عیسی پاچاهی ونه منله، دا ځکه چې د هغه پاچاهی مادی نه وه، بلکه روحانی وه، یوه شپه مخکی د

خپل مرګ ځنې د دې د پاره چې خپل دولسو شاګردانو ته د تواضع مثال ورکړي، د هغو پښې ئې وینځلی او کله چې هغه مړ شو نو کوم دولت او دارئي ورځنې پاتې نشو، د ځان له جامو ځنې ئې پرته چې هغه هم د هغو سپاهیانو په واسطه چې دی ئې په صلیب باندې مړ کړ ترې وایستلی شولی. دا څومره د تعجب وړ ده چې هغه نورو خلکو ته ژوند، شفا او نجات ورکول، مګر پخپله ئې حتی یو کور هم ځان ته جوړ نۀ کړو.

نهم:د حضرت عیسی مسیح مرګ د تعجب وړ وو

حضرت عیسی په خپل ژوند کې څو، څو ځلې د خپل مرګ پیش ګوئې کړی وه او ویلی ئې وو چې هغه به په بیت المقدس کې په صلیب باندې مړ شي. کله چې د هغه یو شاګرد پطروس دا خبره واوریده، نو وئې ویل: "خدای دې نه کوی خاونده! داسې ټوکه به پر تا باندې هیڅکله واقع نشی." مګر حضرت عیسی پطروس ملامت کړو، او وئې ویل چې لری شه! ستا دا فکر د شیطان د لوری دی، نه د خدای د لوری. کله چې د حضرت عیسی د مرګ نیټه راورسیده، هغه ۳۳ کلن وو، نو په هماغه شپه د هغه دښمنان چې د یهودی قوم مذهبی مشران وو، څو تنه سپاهیان ئې ولیږل، تر څو چې حضرت عیسی دستګیر کړي، د حضرت عیسی شاګردان په دې وخت کې غوښتل چې د خپل استاد څخه دفاع وکړي، مګر حضرت عیسی هغوی ته اجازه ورنه کړه. ولې د هغه یو شاګرد چې پطرس نومیده د یهودیانو یو عسکر ئې د تورې په ګذار سخت ټپی کړ. وروسته له هغې نه چې حضرت عیسی پطروس ته

وویل چې خپله توره دې بیرته پوښ کې کړه، نو پخپله ئې خپل ځان د دښمن عسکرو ته تسلیم کړو د هماغې شپې په وروستو وختو کې کله چې د یهودیانو مذهبی مشران په حضرت عیسی باندې ډیرې ملنډې او مسخری وکړلی او ډیر وهل ئې هم ورته ورکړل نو حضرت عیسی هیڅ ورته ونه ویل او د هماغی شپې په سبا کله چې رومی عسکرو د هغه لاسونه او پښی په صلیب باندې میخ کړل، نو هغوی ته ئې ښیرا او کنځل هم ونه کړ، بلکه هغوی لپاره ئې دعا کوله، او ویل به ئې: "ای پلاره! دوی وبخښه: ځکه دوی نه پوهیږي چې څه کوي." څنګه چې حضرت عیسی ئې صلیب باندې ځوړند کړ، نو یهودي مشران ورته نژدې راغلل، او په هغه باندې ئې ډیرې مسخری وکړلی. مګر حضرت عیسی هغوی ته هیڅ جواب ورنکړ. وروسته له شپږو هیبتناکو ساعتونو ځنی په صلیب باندې د حضرت عیسی په سترګو کې اوښکې راغلې او ئې ویل: "ای پلاره! ما خپل روح ستا په لاس کې وسپارلو!" دا ئې وویل او مړ شو.

هغه رومي افسران کوم چې صلیب ته نژدې ولاړ وو د حضرت عیسی د مرګ څرنګوالی ته حیران پاتی شول او تعجب ئې وکړ.

عیسی مسیح په زور نه دی مړ شوی که هغه غوښتلی وای خپل ځان ئې په آسانی سره د مرګ ځنې خلاصولی شو. هغه پخپله خوښه غوښتل چې د خلکو د ګناهونو د پاره دومره درد او تکلیفونه په ځان باندې قبول کړي، لکه چې اشعیاء نبی ډیر پخوا دا پیشګوئې کړی وه او ویل ئې چې "هغه زمونږ د ګناهونو په ځای زخمی شوی، زمونږ د جرمونو لپاره ټکول شوی دی. زمونږ د سلامتی لپاره وهل شوی، او د هغه د زخمونو په واسطه مونږ شفا وموندله، مونږ او تاسو ټول د پسونو په شان ګمراه او بې لارې شوی یو، هر یو په خپل سر روان وو، او خدای زمونږ او ستاسو ټول ګناهونه د هغه په سر کیښودل، هغه ډیر زحمت او کړاو ولید، او په خوله ئې هیڅ ونه ویل، لکه چې یو وری قصاب خانی ته د حلالولو لپاره وړل کیږي، یا لکه یو پسه چې د بیاتی کوونکی په وړاندې چپ او غلی او آرام ولاړ وی، نو هغه خپله خوله خلاصه نه کړه او هیڅ ئې ونه ویل." (اشعیاء **۵۳**: **۵**-۷) د حضرت عیسی د مرګ په وخت کي د هغه یو شاګرد چې یوحنا نومیده، صلیب ته نژدې ولاړ وو، نو د خپل استاد په باره کې داسې وائی: "هغه په خپله زمونږ د ګناهونو کفاره دی، نه یواځی زمونږ د ګناهونو بلکه د ټولی

دنیا د ګناهونو هم." (اول یوحنا ۲: ۲). رښتیا هم چې د مسیح مرګ بې ساری او د تعجب وړ وو.

لسم: د حضرت عیسی بیا ژوندی کیدل د تعجب وړ وو

ټول پخوانی پیغمبران او مقدس خلک مړه او خاوری ته سپارل شوی دی. بغیر له الیاس څخه چې جنت ته ختلی وو، نو عیسی مسیح هم مړ او ښخ شوی وو، مګر د هغه بدن نه دی خاوری شوی، او په هغه باندې ډیر یو د تعجب وړ کار وشو، یعنی دا چې هغه بیرته راژوندی شو، لکه چې هغه پخپله دا پیشګوئی کړی وه چې هغه به همداسې وکړي، درې ورځې وروسته د مرګ ځنې د یکشنبی په ورځ هغه د قبر څخه ژوندی د باندې راووت، سره له دې چې قبر د هغه د دښمنانو په ذریعه ټینګ او مهر لاګ شوی وو او عسکرو هم په ټینګه پهره داری کوله. او هغه په ډیرو ځایونو کې خپل ډیرو شاګردانو ته ځان ښودلی وو. او هغه د څلویښت ورځو لپاره په بیت المقدس او ګلیل کې د خپل ډیرو مریدانو سره ملاقات وکړ، نو هغه کسانو چې په اوله کې ئې د حضرت عیسی په بیا ژوندی کیدو باور نه شو کولی، مګر کله چې ئې په خپله د سر په سترګو ولیدل، نو

په ټینګه ئې باور وکړ چې حضرت مسیح په رښتیا سره بیا ژوندی شوی دی.
وروسته هغه د خپلو شاګردانو په حضور کې جنت ته جګ شو او لاړ، یعنی هغه ځای ته چې د خپل پلار سره یو ځای ژوند کوي.
د ټولو خلکو د جملو څخه چې د ځمکی پر مخ باندې ژوند کوي، یواځی حضرت عیسی وروسته د مرګ ځنې بیرته راژوندی شوی او بیا دوهم ځل لپاره نه دی مړ شوی. د حضرت عیسی بیا ژوندی کیدل بیشکه چې داسې یو ثبوت دی چې هغه خپله دعوه کوله، هغه د خدای روحانی زوی او د دنیا نجات ورکوونکی دی! دا څومره د تعجب وړ ده.

یولسم: د حضرت عیسی د بیا راتګ پیشګوئې د تعجب وړ وه

هیڅ یو د پخوانې پیغمبرانو څخه خپلو پیروانو ته د خپل مرګ څخه مخکې دا نه دي ویلی چې بیا به د ځمکی پر مخ راشي. مګر حضرت عیسی څو ځلې خپل بیرته راتګ ذکر کړی. هغه خپلو شاګردانو ته ویلی چې د هغه د بیرته راتګ لپاره تیار او منتظر اوسیږ او هم د خپل ژوند د حساب ورکولو لپاره اماده اوسیږ، هغه ویلی چې په آخره زمانه کې به د جنت څخه راشی او هر څوک به ئې وګوری هغه به په خپل شانداره تخت باندې کښینی او ټول قومونه به هغه ته راشی، هغه به د دوی په منځ کي قضاوت وکړي، هغه به یو د بل څخه داسې بیل کړی لکه چې شپون پسونه دوزو څخه بیلوی، هغه کسانو ته کوم چې په هغه باندې د نجات ورکونکی ایمان لری ابدي ژوند به ور په برخه شي. او هغوی چې عقیده نلری په ابدی مرګ به محکوم شي. د هغه راتګ به څومره د تعجب وړ او شانداره وی، او د هغه کسانو لپاره به څومره هیبتناکه وی کوم چې د هغه متابعت نه کوی.

دولسم: د حضرت عیسی مرتبه د تعجب وړ ده

هر هغه څوک چې د عیسی سره رښتینې آشنائی پیدا کړی، نو په دې به پوه شی چې هغه د بل هر چا څخه د لوئی مرتبی خاوند دی. کوم لقبونه چې هغه ته ورکړ شوی دي،د دې خبرې ښکاره کونکی دي. مسلمانان هغه د خدای روح بولی. او هغوی ته د خدای لغت هم استعمال شوی دی. مګر د انجیل په مقدس کتاب کې ډیر ځله هغه ته "د خدای د زوی" لقب ورکړ شوی. د هغه د زیږیدنی نه مخکې حضرت جبرائیل د عیسی مور مریمي ته وویل چې "هغه به لوی وی او هغه به د الاعلی زوی وبللی شی. مالک خدای به هغه ته د نیکه داود تخت ورکړی" (لوقا ۱ : ۳۲). څرنګه چې خدای پخپله یو روح وی نو حضرت عیسی هم د خدای روحانی زوی دی نه جسمانی. حضرت عیسی به ډیر ځله د خدای آواز د جنت څخه آوریدلو چې حضرت عیسی ته ئې (زما زوی) خطاب کړی.

یو شاګرد د حضرت عیسی څخه پوښتنه وکړه چې خپل پلار هغوی ته وښئی،

عیسی داسې جواب ورکړو چې "فیلیپوسه! تاسو سره زه د دومره مودی نه یم او بیا مې هم نه پیژنی څه؟ هر چا چه زه لیدلی یم پلار ئې هم لیدلی دی، نو بیا ته څنګه وائی چې مونږ ته پلار وښیه؟ آیا په دې ستاسو باور نشته چې زه په پلار کې یم او پلار په ما کې دی؟ زه چې څه خبری تاسو ته کوم هغه د ځان نه نه کوم، دا هغه دی چې په ما کې اوسی او خپل کار کوی." (یوحنا ۱۴: ۹-۱۰) یو بل وخت حضرت عیسی وویل "زه او زما پلار یو یُو" (یوحنا ۱۰: ۳۰) د خدای هیڅ یو پیغمبر، دا رنګه یوه وعده نه ده کړی. رښتیا چې د حضرت عیسی مرتبه بې ساری او د تعجب وړ ده!

دیارلسم: د حضرت عیسی نفوذ په نړۍ کې د تعجب وړ وو

دا یوه ښکاره خبره ده چې ډیر هغه کارونه چې د دنیا ډیرو لویو خلکو کړی دي، حضرت عیسی نه دې کړی. هغه یو کتاب ونه لیکه، یو جنګ ئې فتح نه کړو، یوه پاچاهی ئې جوړه نکړه، او نه په تخت باندې کښیناست او یو د تعجب وړ شی لکه راډیو، یا تلویزون ئې هم نه دی اختراع کړی، او برعکس د هغه د ژوند ډیره موده ناصری په کوچنې ښار کې د یو عاجز ترکاڼ په شکل تیر شوی وو او حتی د هغه روحانی کار ئې چې خلکو ته به ئې د ګناهونو څنې نجات ورکاوه، دری نیم کاله دوام وکړ. مګر برسیره پر دې حضرت عیسی نن ورځ په ټوله نړۍ کې یو ګران او محبوب شخصیت دی. هغه مقدس کتابونه کوم چې د هغه د شاګردانو په واسطه د هغه په باره کې لیکل شوی دي، د زرو نه هم په زیاتو ژبو باندې ترجمه شوی دی، او نظر ټولو کتابونو ته چې تر اوسه پورې لیکل شوی دي ډیر زیات خرڅیږي.

په زرګونو نارینه او ښځې د خپل اصلی وطن څخه د دنیا مختلفو برخو ته تللی، تر څو چې خلکو ته د عیسی مسیح په باره کې خبرې وکړي.
تقریباً د دنیا په ډیرو برخو کې ډیر خلک شته چې د هغه سره مینه لری او دوی فخر کوی چې د هغه په نامه یاد شی.
او په خپله خوښه خپل ژوند هغه ته ورکړي. هغه کسان چې حضرت مسیح سره مینه کړی، په زرګونو مکتبونه، شفا خانی او مرستونونه د هغوی په واسطه جوړ شوی او غواړی چې خپل ملګری انسانانو سره مرسته وکړي او په ملینونو خلکو ته د هغوی په واسطه جسمی او روحی شفا ورکړی شی، په حقیقت کې ډیر زیات موسسات او تاثیرات کوم چې نن ورځ زمونږ نړۍ مخ په وړاندې بیائې د هغوی منشا او د قدرت سرچشمه د حضرت عیسی د ژوندانه د تعلیماتو څخه دی. آیا دا څومره د تعجب وړ سړی دی چې وروسته له دوه زرو، (۲۰۰۰) کالو څخه لاتر اوسه پوری په دنیا کې نفود کوي.

څوارلسم: د حضرت عیسی همیشنې حضور د خپلو پیروانو سره د تعجب وړ وو!

مخکې له دې ځنې چې عیسی مسیح جنت ته جګ شی هغه نه یواځی خپل بیرته راتګ په آخره زمانه کي پیش ګوئی کړ، بلکه د خپل مریدانو سره ئې وعده وکړه چې له هغوی سره به تل اوسي. او هغوی ته وویل "ځکه تاسو په ځمکه خواره شیۍ او ټول قومونه زما مریدان کړیۍ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړیۍ" (متی ۲۸: ۱۹-۲۰). او په یو بل وخت کې هغه وویل: ځکه چې دوه یا درې تنه چې چرته هم زما په نوم یو ځای شی نو زه به د دوی په مینځ کې یم." (متی ۱۸: ۲۰)، نو ځکه کله چې عیسی مسیح جنت ته لاړ، نو د هغه مریدان یواځی پاتی نه دي. بل د هیچا د پاره ضرورت نه وو چې د عیسی په ځای د هغه د مریدانو سره اوسی، ځکه چې حضرت مسیح خپله په روحانی توګه هغوی سره اوسیږی، او د زمانی تر آخره پورې به د هغوی سره یو ځای وی. حضرت مسیح هغوی رهنمائی کوی، هغوی ته قوت ورکوی هغوی هوسا کوی، هغوی ته بخښنه ورکوی، هغوی د ګناه څخه

پاکوی، او هم هغوی ته د خدای دیدار ښئی. څرنګه چې هغه پس له مرګه بیا راژوندی شو او هغه ته نور ژوند هم ور په برخه شو، نو کولای شی چې زمونږ سره د هرې لاری ځنې داسې مرستی وکړی کوم چې نور مړ شوی پیغمبران ئې نشی کولی.

هغه هر چا ته بلنه ورکوی چې ورته ورشی او د هغه ملګری شی او هغه وائی چې: "ای تاسو چې ټول خواری کوی او پنډ مو دروند دی، ماله راشئ او زه به آرام در کړم." (متی ۱۱: ۲۸).

وګورئ چې د هغه ملګرتیا او مینه څومره د تعجب وړ ده.

پنځلسم: یوه بله د تعجب وړ خبره!

نظر په دې لیکل شوو دلایلو او نظر په ډیرو نورو دلایلو باندې چې دلته نه دی ذکر شوی، مونږ ښه ګورو چې حضرت عیسی رښتیا هم د (تعجب وړ) د نامې لیاقت لری، او نورو پیغمبرانو هم د ده د زیږیدو نه ډیر مخکې هغه ته دا نوم ورکړی وو. د هغه هر شی د تعجب وړ وو، مګر زمونږ لپاره د ټولو نه د تعجب وړ خبره دا ده چې حضرت مسیح غواړي زمونږ په ګناه ګارو زړونو کې ځای ونیسی. ځکه چې هغه ویلی دی: "ګوره،زۀ په دروازه کې ولاړ یم او ور ټکوم او که څوک زما آواز واؤری او ور خلاص کړی نو زه به ورننوځم او د هغۀ سره به ډوډۍ وخورم او هغه به ئې ما سره وخوری" (مکاشفات ۳: ۲۰).

ګرانه وروره! دغه د تعجب وړ ژغورونکی نن ورځ ستا د زړۀ دروازی ته راغلی او غواړی چې ننوځی. هغه د دې د پاره مړ شو چې تا ته د ګناهونو ځنې نجات درکړی، او هغه اوس د دې د پاره ژوند کوی چې تا ته ابدی ژوند درکړي. هغه ستا په اندیښنو، تکلیفونو، ګناهونو، ویره او ستا په ټولو خواهشاتو باندې ښه پوه دی او غواړی چې تا ښه

نیکموغه او خوشحاله کړي. که ته هغه خپل دوست ګڼې، نو باید همدا اوس هغه ته خپل زړه خلاص کړی. هغه خپل نجات ورکوونکی وبوله، او خپل ځان هغه ته وسپاره، د انجیل مقدس کتاب ولوله، خصوصاً نوې عهد ، ترڅو پوه شی چې هغه له تا څخه څه رنګه اعمال او کردار غواړي، کلیسا ته لاړ شه او د عیسی نورو ملګرو سره یو ځای شه. څه شی چې د عیسی په باره کې ستا یاد وی نورو ته هم ووایه، او هغه ته بلنه ورکړه چې د عیسی مسیح مرید شي. که ته داسې وکړی، نو د خپلې تجربی نه به پوه شی چې حضرت عیسی څه یو د تعجب وړ ژغورونکی دی ته به ډیر ښه پوه شی چې ولې خدای هغه ته د تعجب وړ نوم ور کړی دی.

ماءخذونه

۲ سموئیل نبی ۷: ۱۲، ۱۷، زبور ۲: ۶-۹، ۲۲: ۱۴-۱۸، اشعیا نبی ۷: ۱۴، ۹: ۶-۷، ۱۱: ۱-۹، دانیل ۷: ۱۳-۱۴، میکا ۵: ۱-۲، مرقوس ۲: ۱-۱۳، لوقا ۷: ۳۶-۵۰، مرقوس ۴: ۴۱، متی ۲۶، او ۲۷ فصلونه. لوقا ۲۲ او ۲۳ فصلونه.